# د پښتو افسانوي مجموعې "د راحت افسانې" تنقيدي جاج

# The critical analysis of the Pashto Short Stories, Da Rahat Afsanay

Dr. Nasrullah Khan *
Dr. Badshah e Rome (Daryab Ali Khel)**

**Abstract:**

Pashto fiction has its roots in the pre-division of the Hindostan , Sub-continent. When the British Empire was established the whole sub-continent was under the influence of their policies. The area was influenced politically, culturally and that change was also felt here in the literature. Most of the writers who were studying the Western literature got influence for the local literature. Most of the western genres has come here through Urdu to Pashto. The way they translated and got influence from western literature was that way which was followed by Urdu and Hindi writers. In other words the fiction of that specific time period has same plots and same themes because they were reproducing the ideas of each other's. Pashto fiction was also in the same flow. There are some specific names in the fiction in Pashto literature that created fiction as their own way of style. In those one is the name of Rahat Zakhaili. Who is the first fictionist of Pashto, wrote Kwanda Jinaye, the first short story of Pashto in 1917 AD. . we are going to discuss the fictions of the said writer collected by Prof. Afzal Raza with the name of Da Rahat Afsanay. We are going to view critically those fictions and reach to the result that those fictions, Short stories are the milestone for Pashto Fiction.

**Keywords:** Fiction,Short stories,literature,Western,Genres,Influence,Plot,Specific.

ادب په دوه ډوله تخليق کېږي، نثر او نظم. دواړو کښې د انسان د داخل د استخراج اظهار کېږي.ادب د ژوند تنقيد دے. ادب د ژبې، يوې خاص جغرافيې، خاص قوم او وخت ترجمان وي. کوم قوم او ژبه چې په معروضي لحاظ د زوال او کړکېچنو حالاتو نه تېرېږي هلته ادب هغه هومره کوټلے او بهترين تخليق کېږي. د دغه تنقيد په شا د ادب د تخليق مظاهر دي کوم چې د هغه څۀ ردعمل دے کوم چې مونږ ته ژوند د حالاتو په کټوري کښې

---

* AP, Department of Pashto ICP
** Chairman Department of Pashto UOM.

راکوي. انسان همېشه د خپل ردعمل اظهار په څۀ نا څۀ طريقه کوي ځکه چې الله رب کريم هر چا ته د اظهار د پاره څۀ نا څۀ لار ورکړې ده. په دغه لارو چارو کښې ادب د ټولو نه لطيفه او د نزاکتونو نه پربوانه لار ده. په دغه ادبي پنګو کښې يوه پنګه د افسانوي ادب هم ده. افسانوي ادب د نولسمې پېړۍ د ابتدائي ورځو پېداوار دے. کله چې انګرېزان په هند قابض شو نو د دې ځائې په سماجي، معاشي، معاشرتي، سياسي او ادبي ژوند ئې خپل نه ختمېدونکي نقشونه پرېښودل. دا انساني فطرت دے چې همېشه د قابضې او حکمرانې طبقې اثر ډېر زر هم قبولوي او هم ئې په خپلو فخر محسوسوي. په ادبي مېدان کښې چې کله انګرېز خپل اثرات جوتول شروع کړل نو اول خو ترې د هندۍ او اردو ليکوال متاثره شول او بيا د هغوي په تقليد کښې پښتو هم دغه اثرات قبول کړل. ډېر نوي اصناف د ادب جولۍ ته راغلل. په دغه اصنافو کښې افسانه هم شامله ده. افسانې ته لنډه قيصۍ يا Short Story هم وئيلې شي. د خپل صنفي خصوصياتو د مخه افسانه د داستان او ناول نه مختلف صنف دے. کۀ ناول د ژوند د يو دور احاطه کوي نو افسانه د ژوند د يو اړخ يا د يوې انساني تجربې رنګ لري. دا هم وئيلے شُو چې د يوې واقعې يا د واقعې په تاثر د افسانې د وجود انحصار وي. د افسانې مختلف تعريفونه شوي دي. لکه افسانه هغه نثري قيصه وي چې د هغې په لوست نيمه ګېنټه وخت ولګي يا دا چې د افسانه د يو کس د ژوند د يوې اهمې او خوندورې موقعې په ډرامائي صورت د وړاندې کولو نوم دے. د يو ناقد تر مخه افسانه د يوې واقعې د بيان نوم دے په کومه کښې چې ابتدا هم وي مېنځ هم عروج هم او اختتام هم. د افسانې يو موزون او اسان تعريف دا هم کړے شوے دے چې افسانه يو داسې نثري صنف دے چې په هغې کښې يوه واقعه يا د ژوند يو اړخ په کم نه کم لفظونو کښې بيان کړے شوے وي. د بيان اسلوب داسې وي چې د واقعې خوند په کښې قائم وي او هم د افسانې مقصد هم. د دې سره سم دا هم ضروري ده چې د تاثر وحدت په کښې هم قائم وي. د افسانې په حقله ډاکټر اختر وائي:

''ایک اچھّاافسانہ ایک کامیاب ڈرامہ کی طرح معجزہ ہے ایجاز کا۔ باوجود اختصار کے فنّی حیثیت سے وہ ایک حُسن کامل ہوتا ہے اور اپنے حُسن و تکمیل کی وجہ سے ناظرین کے لیے ذہنی مسرّت کا سامان۔'' [1]

لطيف الدين احمد د افسانې تعريف داسې کوي:

''کسی ایک واقعہ یا جذبہ کی تاریخ بیان کر دینا مختصر افسانہ ہے۔'' [2]

د افسانې متعلق سید وقار عظیم لیکي:

''افسانہ کہانی میں پہلی مرتبہ وحدت کی اہمیت کا مظہر بنا۔ کسی ایک واقعہ، ایک جذبہ، ایک احساس، ایک تاثر، ایک اصلاحی مقصد، ایک رُوحانی کیفیت کو اس طرح کہانی میں بیان کرنا کہ وہ دوسری چیزوں سے الگ نمایاں ہو کہ پڑھنے والے کے جذبات واحساسات پر اثرانداز ہو، افسانہ کی وہ امتیازی خصوصیت ہے جس نے اُسے داستان اور ناول سے الگ کیا ہے۔ مختصر افسانہ میں اختصار اور ایجاز کی دوسری امتیازی خصوصیت نے اُس کے فن میں سادگی، حسنِ ترتیب وتوازن کی صفت پیدا کی۔'' [3]

وحید اختر د افسانې په اړه لیکي:

''ادب میں افسانہ اپنے لغوی معنٰی کے لحاظ سے بھی کسی حقیقی یا فرضی واقعہ کا بیان ہے۔ یہ واقعہ تاریخی بھی ہو سکتا ہے، زمانی بھی، نفسیاتی واردات بھی، تاثر کا زائیدہ بھی ـــ... لیکن کہانی میں واقعہ کو بہر حال اہمیت حاصل ہوتی ہے کہ کہانی واقعہ کا بیان ہے اس لیے کہانی کا اسلوب ہمیشہ سے بیانیہ رہا ہے۔'' [4]

په دې حقله سعادت حسن منټو لیکي:

''ایک تاثر خواہ وہ کسی کا ہو اپنے اوپر مسلّط کر کے اِس انداز سے بیان کر دینا کہ وہ سُننے والے پر وہی اثر کرے، یہ افسانہ ہے۔'' [5]

راجندر سنګھ بېدي په خپل مضمون افسانوی تجربہ اور اظہار کے تخلیقی مسائل کښې لیکي:

''افسانے اور شعر میں کوئی فرق نہیں ہے۔ ہے تو صرف اتنا کہ شعر چھوٹی بحر میں ہوتا ہے اور افسانہ ایک ایسی لمبی اور مسلسل بحر میں جو افسانے کے شروع سے لے کر آخر تک چلتی ہے۔ مبتدی اس بات کو نہیں جانتا اور افسانے کو بہ حیثیت فن شعر سے زیادہ سہل سمجھتا ہے۔ پھر شعر، فی الخصوص غزل میں آپ عورت سے مخاطب ہیں، لیکن افسانے میں کوئی ایسی قباحت نہیں۔ آپ مرد سے بات کر رہے ہیں، اس لیے زبان کا اتنا رکھ رکھاؤ نہیں۔ غزل کا شعر کسی کھردرے پن کا متحمل نہیں ہو سکتا، لیکن افسانہ ہو سکتا ہے۔ بلکہ نثری نژاد ہونے کی وجہ سے اس میں کھردرا پن ہونا ہی چاہیے، جس سے وہ شعر سے ممیّز ہو سکے۔'' [6]

سلام بن رزاق د افسانې تعریف داسې کوي:

''میرے نزدیک ایک عمدہ افسانے کی تعریف یہی ہے کہ جسے پڑھنے کے بعد قاری وہ نہ رہے جو پڑھنے سے قبل تھا۔ ایک اچھا شعر، عمدہ افسانہ ایک بلند پایہ ناول ہمیں مسرّت وانبساط کے ساتھ ساتھ ہماری زندگی کی تہذیب کرتا ہے اور ہماری پراگندہ سوچ کے دھارے کو زندگی کے بیکراں سمندر سے جوڑ دیتا ہے۔ نیز جس کے مطالعے کے بعد زندگی ہمیں زیادہ بامعنی اور بامقصد لگنے لگتی ہے۔ اگر افسانہ اس کسوٹی پر کھرا نہیں اُترتا تو پھر وہ افسانہ نہیں محض الفاظ کا ڈھیر ہے۔'' [7]

د افسانې متعلق د دغې شوې تعريفونو په رڼا کښې دا خبره واضحه کېږي چې افسانه مختصر نثري بيانيه صنف دے چې په کښې د ژوند د يو اړخ يا د يوې واقعې بيان په مؤثره لار شوے وي کوم چې لوستونکي ته د مسرت او انبساط سره سره د بصيرت خوارهٔ هم بخښي. د افسانې د پېژندګلو په تناظر کښې اوس د راحت زاخيلي د افسانو کومې چې پروفېسر افضل رضا د راحت افسانې په نوم چاپ کړې دي جاج اخستلے شي.

د راحت زاخيلي خپل نوم راحت الله ؤ او قلمي نوم ئې راحت زاخيلي ؤ. په کال ۱۸۸۵ء کښې د اپرېل په اتلسمه نېټه (۴ رجب ۱۳۰۲هـ) د نوښار په ازاخېل کښې د فريح الله کره پېدا شوے ؤ.

محمد نواز خټک د راحت د زېږېدنې نېټه ۴ رجب المرجب ۱۳۰۲هـ ښودلې شوې ده.[8]

د دغه کتاب په درېم ايډيشن کښې هم دغه نېټه ليک ده. خو ولي همېش خليل د پښتانهٔ ليکوال په اولني ټوک د راحت د زېږېدنې نېټه د زېرګې ځلورمه ۱۳۰۴هـ ليکلې ده".[9]

دغه طباعتي تېروتنه په دوېم ځل چاپ کښې سمه کړې شوې ده. دغه د زېږېدنې نېټه د زېرګې مياشت څلورمه نېټه او ۱۳۰۲هـ کال ليکلے دے.[10] "

د افغانستان ليکوالو لکه مير حسين شاه، عبدالرؤف بېنوا او عبد الله بختاني هم د راحت زاخيلي د زېږېدنې نېټه د پښتانهٔ ليکوال د اول ځل چاپ په تناظر کښې د زېرګې څلورمه کال ۱۳۰۴هـ ليکلې ده. د نه دا جوتېږي چې د هغه د زېږېدنې نېټه د رجب چې پښتانهٔ ورته زېرګه مياشت هم وائي په څلورمه کال ۱۳۰۲هـ کښې پېدا شوے دے او د تقويم مطابق ۱۸ اپرېل ۱۸۸۵ء جوړېږي او په ۲۹ مئي ۱۹۲۳ء بمطابق ۵ محرم ۱۳۸۳هـ کښې وفات شوے دے.[11] "

د راحت زاخيلي د ادبي ژوند سفر د شلمې پېړۍ د ابتدا نه کېږي. که شاعري ده که قيصه ايز ادب، صحافت دے که ترجمه نګاري په هر مېدان کښې ئې د اوليت تاج په خپل سر اېښودے دے. دلته ئې د افسانو جاج اخستلے شي کومې چې افضل رضا د راحت افسانې په نوم راټولې کړې دي. په دغه مجموعه کښې د راحت اووهٔ افسانې دي، چې په ترتيب ئې نومونه دا دي:

1 . کونډه جینۍ
2 . سین چپې چپې اباسین چپې چپې
3 . دا هم وادهٔ ؤ
4 . د طارق اختر
5 . لُور خور کۀ غوا مېښه
6 . پټ پټونے
7 . د تندي لیک

دا به اوو ایو چې په دې مجموعه کښې د راحت وړومبۍ او اخرنۍ افسانه شامله ده. یعنې کونډه جینۍ افسانه په اول ځل په کال ۱۹۱۷ء کښې په افغان اخبار کښې چاپ شوې وه. بیا په ۱۹۳۰ء یو ځل بیا په افغان اخبار کښې چاپ شوه. د دې نه علاوه په قند مردان کښې په پښتو افسانه نمبر کښې په جنوري، فروري ۱۹۵۹ء کښې چاپ شوې ده.[12]

د دې سره سمه افسانه سین چپې چپې اباسین چپې چپې د راحت هغه افسانه ده چې د اباسین رسالې په ابتدائي دور کښې په ۱۹۵۴ء کښې د نومبر په میاشت کښې چاپ شوې ده. دا هم وادهٔ ؤ د راحت هغه افسانه ده چې د اباسین کراچۍ د جولائۍ ۱۹۵۵ء په ګڼه کښې چاپ ده. ورپسې بله افسانه د طارق اختر ده چې په رهبر کښې په مئ ۱۹۵۷ء کښې چاپ شوې ده. لُور خور کۀ غوا مېښه هم د راحت افسانه ده کومه چې په ۳۰ نومبر ۱۹۵۸ء په رهبر او اول په افغان کښې چاپ شوې ده. پټ پټونے بله افسانه ده کومه چې په کال ۱۹۵۹ء کښې د ستمبر د میاشتې په په رهبر کښې چاپ شوې ده. د دې مجموعې اوومه افسانه د تندي لیک په وروستي ځل په جمهوریت پېښور کښې په ۲۳ ستمبر ۱۹۲۰ء کښې چاپ شوې ده."[13]

د راحت زاخېلي افسانې د ابتدائي دور افسانې دي، چونکې افسانه په دغه دور کښې د اردو د اثر لاندې لیکلې کېدله نو ځکه پرې اصلاحي رنګ غالب ؤ. راحت به هم په شعوري توګه د معاشرې د اصلاح او سماجي بدلون رنګونه د خپلې افسانې په کېنوس منقش کول. کۀ د هغه د لیک انداز ته غور وکړے شي نو د افسانې لیک ئې مقصدیت لري. د هغه افسانې په ساختیاتي لحاظ هم د خپل دور د افسانې په نسبت ځانګړتیاوې لري. د

موضوعاتو په لحاظ هم تنوع لري.
افضل رضا د هغه د افسانو په حقله ليکي:

"راحت صاحب چې پښتو افسانې ته څۀ ورکړي هغه په دې لحاظ هم ډېر قېمتي دي چې د پښتو افسانې د باني د ښېرازه فکر پيداوښت دے. د راحت صاحب د افسانو جاج چې د فکر او مواد لۀ مخه اخستې شي نو دا معلومېږي لکه چې د دې حساس طبيعت خاوند د پښتو د معاشرې خامۍ په ګوته کړي دي او دا ئې غوښته چې د پښتنو د معاشرې اصلاح د دې زړۀ راښکونکي نوي صنف په ذريعه هم وکړي."[14]

په فني توګه چې مونږ د راحت افسانې سنجوو نو اکثر په کښې د افسانې په فني چوکاټ پوره دي او ځنې په کښې لږې کمزوري هم دي خو ولې بيا هم مونږ دغه افسانې د دغه شمېره نۀ شو ويستلې ځکه چې دا د پښتو د ابتدائي دور افسانې دي او خامخه به داسې نيمګړتياوې لري. پښتو افسانه په دغه دور کښې لا په خپورو وه ولې بيا هم د پلاټ، تهيم، سسپنس، انداز ګفتګو، تجسس، خاتمه، شائستګي، کردارونه او وحدتونه دا ټول لوازمات د هغه په افسانو کښې موجود دي. د دې وجه خو دا ده چې راحت زاخېلي کۀ يو خوا عالم فاضل سړے ؤ نو بل خوا ئې د اردو ادبياتو سره د فارسۍ او عربۍ هم غرقه مطالعه لرله.

روهي ليکي:

" د الفاظو ښکلا، د ژبې لطافت او رواني، د احساساتو ترجماني او د قيصې پلاټ ټول په دې شاهدي ورکوي چې راحت زاخېلي نا يوازې لومړنے کيسه ليکونکے دے بلکې د لومړۍ درجه کيسه ليکونکو په کتار کښې هم ودرېږي."[15]

د استاذ راحت نثر ته يوه کتنه کښې نور محمد سليم ليکي:

کۀ چرې د استاذ راحت د نثر ژبې ته ځير شو او په ژوره توګه ئې ولولو نو د دۀ لۀ هرې پارچې نثر په تېرۀ تېرۀ د دۀ د افسانو او وړو ادبي ټوټو څخه داسې يو انځور سترګو ته را اودرېږي چې په خپلو حياناکو پښتني سترګو کښې د اکسرې د شعاع په څېر اغېزه ښيندي او لوستونکے

د ټولنیزو پېښو تل ته ورننباسي." [16]

د راحت افسانې دا صلاحیت لري چې د فن سره سره په کښې یو پېغام هم دے او رسالت هم د هغه افسانې زیاتره کرداري دي چې په انتقادي توګه په کښې د ریالیزم څرک لېدلې شي. بلخوا په کښې د معاشرتي تضاداتو ښه هم شتون لري. د دې سره سم په کښې د کلچرل ریفارمز په لور هم فکري تکل دے چې د روښان فکرۍ وړومبۍ نخښې په کښې مونږ ته په نظر راځي. ډاکټر اعظم اعظم د راحت د افسانو د کردارونو په اړه لیکي:

"تر کومې چې په افسانوي ادب کښې د کردارنګارۍ تعلق دے په هغه توګه د پښتو افسانې د امام ښاغلي راحت زاخېلي په افسانو کښې کردارونه خو لېدې شي ولې د کردارنګارۍ درک په کښې نهٔ لګي. سېوا د پټ پټونے نومې افسانې نه، کومه چې د ښاغلي راحت د عمر د اخري دور افسانه ده." [17]

دلته د اعظم اعظم د دې خبرې سره اتفاق ځکه نهٔ شي کېدلے چې کردار نګاري د کردار مظهر وي او چې کردار موجود وي نو کردارنګاري به ارو مرو موجوده وي. د راحت د افسانو هر کردار او د هرې افسانې کردار نګاري د خپل ماحول او وخت سره سمے هم خوري او د خپلې کردار نګارۍ ترجماني هم. افضل رضا د هغه د افسانو په حقله لیکي:

"د افسانې د کردارونو او واقعاتو، پلاټ او قیصې د وضاحت د پاره چې کومې مکالمې پکار وي او د هغې د پاره چې کومه ښکلې ادبي ژبه لکه د غزل د ژبې هسې نازکه ضروري وي هغه هم د راحت صاحب په افسانو کښې تر ممکنه حده شته." [18]

دلته اوس د پورتنۍ بحث په رڼا کښې د راحت د افسانو جاج اخستلے شي چې په فني لحاظ تر کومه حده دغه افسانې په تول پوره دي.

## کونډه جینۍ:

کونډه جینۍ د راحت افسانې مجموعې وړومبۍ افسانه ده. بلکې دا د پښتو ادب وړومبۍ افسانه ده کومه چې یوه المیه ده. د کم عمر ودونه کول بیا د تعلیم د کمې په وجه د پښتنې معاشرې یو تور اړخ په ګوته کول چې د قسمت برخې هم د یوې ناچارې جینۍ په جولۍ کښې اچوي. یوه جینۍ سپېره ګڼل او په هغې د ژوند لارې ګودرې بندول د هغه وخت د پښتنو د ذهني سطحې پوره منظر کشي کوي. د دې افسانې ژبه اسانه، ساده او روانه ده. قیصه او واقعات ئې ژوندي دي پلاټ ئې چُست او د افسانې نور فني توکیو سره سمون

خوري. په دې افسانه کښې د راحت د اصلاحي رنګ سره سم د هغه د ژورې مشاهدې، تېز نظر عکاسي شوې ده. د دې سره سم د راحت د افسانې د رموز او اشارې د نزاکتونو ښکلا هم ځان روښانه کړے دے.

افضل رضا ليکي:

"په کونډه جينۍ افسانه کښې هغه هاغه څۀ په ګوته کړل چې د پښتو په معاشره کښې د يوې بې زبانه تور سرې سره صرف په دې وجه کېږي چې هغه سپېره ياده شوه حالانکې د تقدير په کړو د انسان څۀ وس رسي."[19]

کونډه جينۍ چُست پلاټ لري ځکه چې د واقعاتو ترتيب ئې هم ډېر مناسب دے. انداز ئې ساده ژبه ئې سوچه او اسانه ده د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې د هر کردار د پاره په کښې د هغه مناسب لب لهجه او ژبه کارولې شوې ده. ځائې په ځائې په کښې راوي بهترينې روزمرې، محاورې او اشارې د موقعې مناسبت سره ځائې کړې دي.

"عن چې د ډولۍ وخت راغے، ورا تيارېده. د هلم او جينۍ جوړې جامې راواخستې شوې او ښځې روانېدو ته پاسېدلې چې د وادۀ د جامو پنډوکے تړلے شو نو هر چا د ناوې او د هلک زړوکي کتل. لۀ بده شامته مرغۍ هم د ورور لنګۍ ته ګوتې ووړې. ښځو په دې کاې هۍ نعرې کړې، چې وئ دا څۀ کوې چې د مور ئې پام شو نو يوه داسې مضبوطه څپېړه ئې ورته په مخ راخلاصه کړه چې د ګوتو تغمې پرې جوړې شوې. مرغۍ اريانه دريانه ودرېده چې يه ربه! ما نه څۀ وشو. مور ئې ورته ووې چې کونډې ښځې د وادۀ جامو ته لاس نۀ وروړي، تۀ خو سپېره کونډه ئې تا ولې ګوتې ووړې."[20]

په مجموعي توګه کونډه جينۍ د پښتو افسانې د ابتدائي دور يوه شهکار افسانه ده چې د خپل دور د معروضي حالاتو ترجماني هم کوي او د ذوق د تسکين تنده هم ماتوي.

## سين چپې چپې اباسين چپې چپې:

د دې مجموعې بله افسانه سين چپې چپې اباسين چپې چپې ده. د پښتون سوچه روماني رنګ سره په کښې د محبت د نيمګړې نيمه خوا جذبې د تندې ماتېدلو سره

سم د پښتنو د برخو انځورګري لري. د خپل ځان د نظر لمبو اخستلي حسن او ښکلا د ژوند د روماني ادا په خوږو لا پوهه نۀ وي چې د وبا کومې ئې ارماني د دنيا نه قبر ته ورسوي. خو راحت په کښې کمال په هغه وخت کوي چې د ژوند د لارې دغه لاروي د مرګ نه پس د سيند په چپو د يو بل غېږ ته رسوي. دا افسانه هم يوه الميه ده. بهترينه کردارنګاري په کښې شوې ده . د موقعې مناسب د کردارونو په مېنځ کښې مکالمه ئې خوند رنګ لا سېوا کوي. د فن سره په کښې د موضوع خواږۀ هم محسوسېږي. دا افسانه هم سوچه ژبه، چست پلاټ، سسپنس او منظر کشي لري. په تېره تېره د مکالمې انداز او د جذبو صداقت ئې قاري د ځان سره لاس نيولے روان کړے وي.

. "په نغښتو مټو چې ښخملي د بروزو شوړه تنور ته ورواچوله نو د اور لمبې به ئې د سر نه اوچتې ژبې ووهلې، د هاږ غرمه او د تنور تاؤ ئې په بدن باندې د خولو نېز رامات کۀ، شين خال ئې د زنې په کوهې کښې غوپې اووهلې، سپين د نرۍ خامتا قميص ور پورې داسې ليؤ شو چې د بدن په خوځېدو راخوځېدو ئې د شا په تختو نرو نرو ګنجو ګلکاري کېده او ورانېده."[21]

دا افسانه په فني لحاظ د قدر وړ افسانه ده چې په ابتدائي دور کښې هم د فني خوږو سره په کښې د جذبو د صداقتونو سره زمونږ د معاشرتي نفسياتو ترجماني هم شوې ده.

## دا هم وادۀ ؤ :

دا هم وادۀ ؤ د راحت درېمه افسانه ده چې زمونږ د پښتون فطري رنګ ته ورته ده. انا د پښتون او بيا په تېره تېره د غريب پښتون پوشاک دے. په جېب کښې به سرۀ کاسيره نۀ لري خو ولې بيا هم د انا دولت دومره لري چې خمبې ترې ډکې ساتي. دا افسانه کۀ يو اړخ ته زمونږ د پښتون د ذهني سطحې د مېچ پېمانه ده نو بل خوا په کښې د پښتنې وفا او پښتنې محبتونو هغه ژوندي کردارونه دي چې د پښتنې انا د تکميل په دار ئې د عمر ځلوښت سپرلي خاورې کړې وي. په فني لحاظ ښۀ افسانه ده پلاټ چست لري او واقعات، کردارنګاري، مکالمې او تجسس په کښې ځان ښائي. ژبه ئې ساده کوټلي د کردارونو مطابق روانه ده.

"لنډه دا چې دا ميره مې ونيوه او نېغ د نوښار ټېشن ته مې ور غر برابر کړو. اور ګاډي

کښې کښېناستم او دا مې قسم وخوړ چې څو پورې مې دومره دولت نهٔ وي راوړے چې د کلپانړۍ د شګو هومره وربړې غوړې مې نهٔ وي ورکړي نو وادهٔ به ونهٔ کړم او بس لاړم د تورو غرونو نه پناه شُوم....څلوېښت کاله پس راغلم او دا مې یقین ؤ چې کهٔ د ټولې کلپانړۍ د شګو او اوبو هومره وریژې غوړي ورنهٔ کړے شم نو دومره خو به ورکړے شم څومره چې د کلپانړۍ پښه زمونږ کلي څخه بهیږي."[22]

د دې افسانې د واقعاتو په تناظر کښې چې مونږ ګورو نو د افسانې د فن په تول پوره افسانه ئې ګڼلې شُو.

## د طارق اختر :

د طارق اختر د راحت یوه ځانګړې انداز لرونکي افسانه ده کومه چې د یو تاریخي پس منظر پېښ منظر وړاندې کولو هڅه ګڼلے شو. د دې افسانې پلاټ او کردارونه خپل ځان پخپله ښائي او د ازادۍ د محبت او د غلامۍ د استعماري پنجو نه ځان خلاصې مهم دي. د دې افسانې پلاټ خور وور دے او کرداري افسانه ده چې زمونږ د اسلامي تاریخ یوې مهمې واقعې ته په کښې اشاره شوې ده. په دغه تناظر کښې کهٔ د فن په تله دا افسانه تلُو نو لږه شان کمزورې ده. خو ولې بیا هم مونږ ورته د خپل وخت ښهٔ افسانه وئیلې شو. واقعات ئې تجسس کم او اشتهار زیات لري. انداز ئې داسې دے چې قاري ته د ابتدا نه د انجام پته لګي. موضوع ئې د ازادۍ ژوند دے.

طارق د اختر میاشت ته حېران حېران ګوري وروستو نه یو اواز راځي، طارقه څهٔ ګورې؟ طارق وروستو ګوري، نسیمې هسې د اختر دې میاشت ته مې کتل چې څومره واقعات، حادثات، انقلابات او تاریخونه، داستانونه غېږ کښې نیولي دي.

نسیمه مسکۍ شي اختر دې مبارک شه، طارق، دا څهٔ اختر دے. نسیمه ، د مینې اختر.... طارق، مینې ته وزګار نهٔ یم، اختر د هغو وي چې څوک ازاد وي د مریونو به څهٔ اختر وي."[23]

په مجموعي توګه دا افسانه هم زمونږ خپله افسانه ده او هر څوک د دې خبرې قائله دے چې ازادي داسې نهٔ حاصلیږي. بله دا چې ازادي خپل قیمت غواړي، قرباني غواړي، دغه قرباني د هر چا په نصیب کښې نهٔ وي لکه د

طارق بن زیاد چې د ازادۍ تقدیر ئې پخپله لیکلے دے.

**لُور خور کۀ غوا مېښه :**

لُور خور کۀ غوا مېښه یوه داسې المیه ده چې په کښې د پښتنو د معاشي او نفسیاتي ژوند یو داسې اړخ بیان شوے دے چې اوس هم په ډېرو علاقو کښې دغه ناوړه کار کېږي خو شکل ئې لږ شان بدل دے. اوس هم د لُور په سر پېسې اخستلې کېږي او اوس هم د اوومې په بهانه د جینۍ کور د هلک کور نه پیسې اخلي. په دغه وېنا سره چې هسې خو هم ستاسو کور ته درځي. دغه عمل د جینۍ د ذات د تذلیل مترادف دے. ولور یا جهېز دواړه ناسور دے. د چا وس کېږي او د چا نا. بهر کیف د دې افسانې پلاټ، کلائمکس او تهیم ډېر زبردست دي. په مجموعي توګه ښۀ افسانه ده. د لفظونو او ترکیبونو استعمال په کښې بر محل شوے دے. کردار نګاري، منظرکشي او وحدتونه ئې د کمال دي.

> "کاکي زما خو په خدمتونو زاره وچاؤده خو منلے هیڅ نۀ شي. خو د خدائے نه هم څۀ یره پکار ده... د کور مېرمن د ډېرې مودې نه ډکه پکه ناسته وه راسره شوه..چې شه لشمکې ! تۀ په کوم مخ لا دا خبره کوې تۀ زمونږ وینزه نۀ یې نو مور مو ئې څۀ؟ ستا مور پلار خو دې الله پاک په اور ستي کړي، تۀ خو ئې د روپو سره سر په سر راکړې یې. تۀ خو د غوا مېښې په شان په مونږ خرڅه شوې یې."[24]

**پټ پټونے :**

پټ پټونے افسانه کښې د پښتون سپېڅلي محبت او مینې د جذبې د قدر او پښتون محبت د پټ سره د یوې داسې المیې په حقله په بشپړه توګه انځور ګري کړے شوې ده چې د وحدت اثر ئې هم زورور دے او هم مؤثر. دا افسانه په فني توګه یوه نمائنده افسانه ده چې تجسس په کښې هم شته منظرکشي هم، په دې افسانه کښې زیات زور په کردارونو ورکړې شوے دے. د دې افسانې خوارۀ هم د دې سسپنس دے. د دې افسانې متعلق ډاکټر اعظم لیکي:

> "د پټ پټونے مظلومه جینۍ خورشېد په حقیقي ډول د خپل عهد د پښتنې جینۍ د ارماني او غمزپلي ژوند نقشه وړاندې کوي. په داسې انداز کښې

چې پرې د حقیقیت ګمان کېږي او هم ورسره د لوستونکو همدردۍ پاتې شي او د راحت صېب د افسانو د عمومي انجام په خلاف دا کردارونه نۀ خو د غم د شدت لۀ کبله خودکشۍ له غاړه ورکوي او نۀ څۀ انتهائي قدم پورته کوي او څۀ وخت چې خورشېد ته پته اولګي چې قسمت د هغې د مينې په دنيا کښې د بربادۍ نه بغېر هيڅ نۀ دي پرېښې نو په داسې حالاتو کښې د هغې ردعمل ډېر فطري او د افسانې انجام ډېر حقيقي او اثرناک ښکاري."[25]

د خورشيد دغه انداز او ردعمل څومره فطري دے.

" ما هيڅ ونۀ وې، چپه خلۀ راروانه شوم. په ژړۀ مې رېږدان راغلے ؤ، پښې مې اړوپړ کېدې. د اوچتو پوندو سپنډلونو چر چر چغ چغ کا وۀ، ما وے دا دے پرېوتم او دا دے پرېوتم، ما د حميد د هېرولو وس کا وۀ خو... ."[26]

## د تندي ليک :

د تندي ليک افسانه د فن په حواله يوه مکمله افسانه ده. سسپنس، واقعات، پلاټ او کردارونه او بيا د ماحول تصوير کشي، ابتدا او انجام ئې ډېر په ښکلي انداز شوي دي. کۀ دې افسانې ته وګورو نو دا هم يوه الميه ده. د پښتنې معاشرې داسې الميه چې د وړوکوالي نه تر ځوانۍ د محبت دغه جذبې قائمې پاتې کېږي او بيا د يوې معمولي بې احتياطۍ په وجه د بېلتانۀ د لمبو مېنځ ته پرېوتل د محبت پت پالل او په بې خبرۍ کښې د خپل محبت په مرۍ غلي کېدل او مينه انجام ته رسېدل. دغه ټوله منظر کشي په فني پرايه کښې کول د ليکوال ژوره مشاهده او خپل معاشرتي ژوند ته نزدېکت ښائي. راحت په دې افسانه کښې هم د هغه وخت د ښځو د نفسياتو د ترجمانۍ کوشش کړے دے.

" بخملې اووې چې زۀ هيڅ قسم لوظ نۀ شم کولے ځکه چې نارينه قدرتي طور باندې ازاد دي او خپل لوظ پوره کولے شي او زنانه عالم ناچارې ورځ نه مجبور وي او ناچاره بنده به د چا سره څۀ لوظ کوي ځکه چې هغه ئې بيا پوره کولے نۀ شي."[27]

په مجموعي توګه کۀ مونږ د راحت زاخيلي افسانو ته ګورو نو هغه په خپلو افسانو کښې پښتنه معاشره په نظر کښې ساتلې ده چې اصلاح ئې وشي. په دغه تناظر هغه قلم په هغه موضوعاتو پورته کړے دے چې زمونږ د معاشرې د پاره ناسور دي. د موضوع نه علاوه په

فني توګه راحت زاخېلي بهترينه واقعات نګاري او کردار نګاري کړې ده. د افسانې د فني لوازماتو ئې پوره خيال ساتلے حالانکې دا د پښتو د ابتدائي دور افسانې دي خو ولې بيا هم د فن نزاکتونه لري. ځائې په ځائې په کښې د پلاټ او کردارونو د قيصې او واقعاتو د پاره د مکالمې نه کار اخستې شوے دے چې په افسانو کښې خوند رنګ پيدا ک مجموعي پلاټونه ئې د پښتنې معاشرې نه اخذ دي چې هم ساده والے لري هم زړۀ راښکون. د راحت د افسانو ژبه سوچه ساده او کليوال پښتو ده کومه چې د خپل کردار سره سمون خوري. ځائې په ځائې محاورې، استعارې او متلونو سره ټپې او شعرونه د خپل کردار د پاره د موقعې محل سره راوړي. دغه د افسانې د وحدت تاثر د پاره ډېر لازم وي. لنډه دا چې دغه غېر صنف ادب ئې په داسې انداز پښتون کړو چې د هغه په افسانو د ابتدائي دور د افسانې ګمان هم نۀ کېږي.

# حوالې

[1] اختر اورینوی، ڈاکٹر، تحقیق و تنقید، پٹنہ، ۱۹۸۹ء، ص ۱۳، Akhtar awrandwe,Dr,Tahqeq wa tanqid,Patna,1979 AD,P13

[2] لطیف الدین احمد "فن مختصر افسانہ" ساقی، سالنامہ، لاہور، ۱۹۳۸ء، ص ۲۸، Latif ud Din ,Ahmad, Fun Mukhtasar Afsana,Saaqi,Salnama,Lahore,1938 AD,P28

[3] وقار عظیم "داستان سے افسانے تک" کراچی، ۱۹۶۰ء، ص ۱۶، Waqar,Azeem,Dastan Se Afsanay Tak,Karachi,1960AD,P 16

[4] وحید اختر "الفاظ" افسانہ نمبر، علی گڑھ، ۱۹۸۱ء، ص ۲۱، Waheed,Akhtar,Alfaaz,Afsana Number,Ali Gharh,1981 AD,P 61

[5] محمد طفیل، نقوش، (سمپوزیم) افسانہ نمبر، ۱۹۵۲ء، ص ۴۶۸، Muhammad ,Tufail,Naqoosh,(Samposium) Afsana Number,1954AD,P468

[6] راجندر سنگھ بیدی، افسانوی تجربہ اور اظہار کے تخلیقی مسائل، مشمولہ، اردو افسانہ روایت اور مسائل، مرتبہ، گوپی چند نارنگ، ایجوکیشنل پبلشنگ ہاؤس، دہلی، ۲۰۰۸ء، ص ۳۱، Rajindar singh,Baidi,Afsanwe Tajriba awr izhaar kay Tahqeqe masail,murataba,Gopi Chand Narang,Educational Publishing House,Dehli,2008AD,P31

[7] لام بن رزاق، فکر و تحقیق، نیا افسانہ نمبر، شمارہ: ۴، جلد: ۱۶، اکتوبر تا دسمبر ۲۰۱۳ء، ص ۶۳۸، ۶۳۹ Lam Bin Razzaq,Fekr wo Tahqeeq,Naya Afsana number,Issue 4,Vol 16,October – Dec 2013 AD,P238,239

[8] خټک، محمد نواز، د تزرې او قلم خاوندان، اداره اشاعت سرحد، پېښور، اول چاپ، ۱۹۴۹ء، مخ: ۱۶۹ Khattak,Muhammad Nawaz,Da Toray aw Qalam Khawandan,Edara Ishaat Sarhad,Peshawar,Edition 1st ,1949 AD,P 169

[9] همېش خلیل، پښتانۀ لیکوال (اول ټوک)، پبلک آرټ پرېس پېښور، ۱۹۵۸ء، مخ: ۳ Khalil,Hamaish,Pukhtana Likwal,Ed 1st ,Public Art Press,Peshawar,1958AD,P 3

[10] همېش خليل، پښتانۀ ليکوال (اول ټوک)، دارالتصنيف جهانګير پوره،بابو حېدر روډ پېښور،دوېم ځل ، ۱۹۶۱ء، مخ:۱۴ Khalil,Hamaish,Pukhtana Likwal,Ed 1st ,Darultasnif,Jehangir Pura,Babo Haidar Road,Peshawar,Ed 2nd ,1961AD,P14,

[11] سېف،زاهد رحمان،سيد راحت الله زاخېلي،ژوند او فن،پېښور،اعراف پرنټرز،محله جنګي،ستمبر ۲۰۲۰ءمخ ۴۴ Saifi.Zahid Rahman,Da syed Rahat ul llah Zakheli Jwand aw Fun,Peshawar, AAraaf Printers Mohalla Hangi,Sep 2020AD,P44

[12] د راحت افسانې،تحقيق او ترتيب پروفېسر افضل رضا،پېښور،دوېم ځل،تاج پرنټنګ پرېس،۱۹۸۹ء، مخ:۳۶ Rahat Afsanay,Tahqeeq wo Tarteb,Prof.Afzal Raza,Ed 2nd ,Peshawar,Taj Printing Press,1979AD,P 36

[13] هم دغه ، مخ: ۳۷ Ibd,P37

[14] هم دغه ،مخ ۳۰ Ibd,P30

[15] روهي،محمد صديق،د راحت زاخېلي لنډې کيسې مشموله د راحت ياد ، کابل پوهنتون فرهنګي شورا ،۱۳۶۳ هـ ، مخ: ۴۳ Rohi,Muhammad Sadeeq,Da rahat ZakheliLanda Kisai,Mashmola Da Rahat Yad,Kabal,Puhantun Farhangi Shora,1363 H,P43

[16] سليم ،نور محمد ،د استاذ راحت نثر ته يوه کتنه مشموله د راحت ياد ، کابل پوهنتون فرهنګي شورا ،۱۳۶۳ هـ ، مخ: ۱۳۰ **Salim,Noor Muhammad,Da ustaz Rahat Nasar ta yawa Katana,mashmola,da Rahat Yad,P**130

[17] محمد اعظم ،اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري،پښتو اکېډيمي،پېښور پوهنتون،۱۹۹۳ء،مخ۱۹۷ Muhammad Azam,Azam,Dr.,Pukhtu adab K kirdar nigari,Pukhtu Academy,PeshawarUniversity,1993AD,P197

[18] د راحت افسانې،تحقيق او ترتيب پروفېسر افضل رضا ، مخ ۳۳ Da Rahat Afsanay,P33

[19] هم دغه، مخ: ۳۰ Ibd P 30

[20] هم دغه مخ: ۴۸ Ibd P 48

[21] هم دغه ، مخ : ۵۲ Ibd P52

[22] هم دغه ، مخ: ۶۲ Ibd P62

[23] هم دغه مخ: ۶۶ **Ibd P 66**

[24] همدغه ، مخ: ۸۸ Ibd P77

[25] محمد اعظم ،اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري،، مخ: ۱۹۷ Pukhtu Adab Kay Kirdar Nigari,P197

[26] د راحت افسانې،تحقیق اوترتیب پروفېسر افضل رضا، مخ ۱۰۲ Da Rahat Afsanay,P 102

[27] همدغه اثر، مخ: ۲۲ Ibd P62